كله چې اذان كوونكى: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ

له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روايت دى وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «كله چې اذان كوونكى: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي: نو ستاسو څخه دې يو اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ، ووايي، بيا چې (اذان كوونكى) أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، دا دې هم : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي. بيا چې (اذان كوونكى) أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايى، نو دا دې هم : أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ووايي، بيا چې (اذان كوونكى) حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ ووايي او دې به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي. بيا چې (اذان كوونكى) حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ووايي، دا به: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ووايي، بيا چې مؤذن: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي، دا به هم: اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ووايي. بيا چې (اذان كوونكى) لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ووايي، او دا د زړه نه: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، ووايي، نو جنت ته داخل شو».

[صحيح دى] [مسلم روايت كړى دى]

اذان خلكو ته د وخت د داخلېدلو په اړه خبر وركوي، او د آذان كلمې د ايماني عقيدې ټولګه ده. په دې حديث كې رسول الله صلى الله عليه وسلم د اذان د اوربدو پر مهال بيانوي چې اوربدونكى به د اذان كوونكي په خبر الفاظ ووايي، كله چې اذان كوونكى " الله أكبر" ووايي: نو اوربدنكى هم: " الله أكبر" وايي او همداسې ورپسې، تر دې چې كله اذان كوونكى "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح"، ووايي نو اوربدونكى به "لا حول ولا قوة إلا بالله" ووايي. او رسول الله صلى الله عليه وسلم دا هم بيان كړه چې چا له مؤذن سره د زړه له اخلاصه (د اذان كلمې) تكرار كړې، نو جنت ته به داخل شي. او د اذان د كلمو معنا (په لاندې ډول ده) "الله أكبر": يعنې دا چې هغه پاک ذات تر ټولو لوى، معزز او له هر شي څخه ستر دى. "أشهد أن لا إله إلا الله": يعنې له الله پرته پر حقه بل معبود نشته. "أشهد أن محمّدًا رسول الله": يعنې زه په خپله ژبه او زړه اعتراف كوم او شاهدي وركوم چې محمد د الله رسول دى، د الله لخوا رالېږل شوى او اطاعت يې واجب دى. "حيَّ على الصَّلاة" يعنې لمانځه ته راشئ، او د اوربدونكي دا وينا "لا حول ولا قوَّة إلّا بالله"، دا معنا لري چې د اطاعت له موانعو څخه د خلاصون لپاره حيله او يا د كولو لپاره يې ځواک او قدرت نشته مګر د الله تعالى په توفيق سره. "حيَّ على الفلاح" يعنې د كاميابۍ سبب ته راشئ، چې هغه جنت ګټل او له اور څخه ژغورل دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65086